مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدسمیع صادق

۲۰۲۶/۰۷/۰۶

# د عبدالمالک بېکسيار نثر

## ساده برېښي، خو آسانه نه دئ

### لومړۍبرخه




لوستونکي، زما په اند، دوه ډوله وي: يو هغه چي کتاب د عقل او فکر په ترازو تلي، او بل هغه ، زما غوندي، چي تر لوستلو مخکي ئي اول په سترګو اندازه کوي. زما په څېر اماتور لوستونکي لا يوه کربښه هم نه وي لوستي چي سترګي ئي د کتاب له لومړۍ پاڼي تر وروستۍ پوري وځغلي او که دا واټن اوږد ورته ښکاره سي، کتاب په کراره بند کړي، او له ځان سره ووايي: «چي وخت پيدا کړم بيا به ئي ولولم.»

«چي وخت پيدا کړم» ښايي د نني انسان تر ټولو خوږ او تر ټولو غولوونکی خيال وي. وخت هيڅکله د ګلانو ګېډۍ په لاس زموږ تر دره نه راځي. که موږ د خپل مصروف ژوند له منګولو د لوست لپاره په شعوري ډول خو شېبې را و نه باسو، نو ټول عمر به هماغه کسان يو چي د هر کتاب په اړه يوازي دومره وايي: «يو ورځ به ئي ولولم.»
په انګليسي ژبه کي يوه مقوله ده:

We live in a world of instant gratification


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په غور و لولـئ

يعني موږ په داسي زمانه کي ژوند کوو چي هر څه سمدستي غواړي. همدې ذهني عادت زموږ نړۍ د اختصار پر لور ټېل وهلې ده؛ يو داسي وخت دئ چي هر څه پکښي ورځ تر بلي لنډېږي. فلمونه په څو ثانيو ريلونو راټول سوي، کيسي مايکرو فکشن ته راټيټي سوي، پيغامونه په ايموجيو بدل سوي او خاطرې تر ورکېدونکو سټوريو محدودي سوي دي. ټولنيزو رسنيو زموږ ګوتي دومره تېزي کړي دي چي تر ذهنونو مخکي منډي وهي.

اوس اکثره وخت د يوې ليکني ارزښت مخکي تر دې ټاکو چي ذهن ته د يوې فقرې د لوست زحمت ورکړو. آن ځيني ستر ادبي شاهکارونه هم څکه نيمګړي پرېږدو چي اوږده راته ښکاري.

کله چي د بېکسيار صاحب د نثري ټوټو دا ټولګه، شرم له سپي، زما لاس ته راغله، ما هم همدا بې‌انصافي ورسره وکړه. نژدې شپږ سوه مخه! کتاب مي په لاس کي ونيوی، څو پاڼي مي واړولي، له لومړی پاڼي مي تر وروستۍ له نظره تېر کړ، او بې اختياره مي داسي احساس وکړ لکه څوک چي د ايورېسټ غره ته د ختلو بلنه راکوي. په ډېر درناوي مي په الماری کي کېښښاوه او له هغه زوړ، آشنا عذر سره مي ځان قانع کړ:

«ژر به ئې ولولم.» څو هغه «ژر» څو مياشتي وروسته راورسېدی. لږ وخت مي له کورني کاره غلا کړ، له ورځني ژونده مي هم څو شپېي را بېلي کړې، او آن د بل هېواد د سفر پر مهال مي دا کتاب هم له ځان سره همسفر کړ. ورو ورو، پانه په پانه، مخ پر پورته د دې ايورېسټ سر ته روان وم. کله کله به د لوست په دې سفر کي تم کېدم، په دې خاطر نه چي ستړی کېدم، بلکه، څکه چي شاوخوا منظرو د فکر او تأمل غوښتنه کوله. لکه څنګه چي غرختونکی د غره څوکي ته په يوه ساه نه رسېږي، همداسي يو جدي لوستونکی هم وروستۍ پاڼي ته بې له تم کېدو، بې له ژوري ساه، بې له حيرانتيا او بې له دې چي شا ته، وهلي لار ته يو ځل بيا ونه ګوري، نه رسېږي.
ورو ورو مي دا احساس له منځه ولاړی چي ګواکي کتاب لولم، داسي راته اېښېده لکه لوړوالي ته چي خېژم.

د کتاب هره خاطره د غره يوه بله اوږه وه، هره يادونه تاو راتاو لاره، او هر فکري تمځای د شپې له تياري مخکي يو نوی کمپ. کله به جملي د ډبرو په تېرو څنډو بدلېدې او هر ګام به ئې احتياط غوښتی، او کله به د هوارو ميدانونو په څېر پراخي سوي چي ذهن به پکښي دمه اخيسته. د نوستالجيا درې، د طنز جګي څنډي وې، د ژوند د تجربو سيندونه ول، او کله کله به داسي لوړ ځای ته ورسېدم چي له هغه ځايه به د انسان طبيعت تر افقه هم ليري غځېدلی ښکارېدی. سوکه سوکه، درې اووني وروسته، منزل ته راورسېدم. کتاب مي آخر ته راورساوه. وروستۍ پاڼي د پای احساس نه راکاوه، داسي وه لکه اوس خو د ايورېسټ پر څوکه ولاړ يم، کښته کېږم به هم بيرته.

هر غرختونکی غواړي د خپلي لاسته راوړني يوه نښه د غره پر جګي څوکي پرېږدي؛ يو بيرغ، يو تورل سوی نوم، يا بل کوم ياد، تر څو ووايي چي يوه ورځ دی هم هلته رسېدلی وو، هلته چي غر له آسمان سره مصافحه کوي.

دا ليکنه هم زما هماغه کوچنی بيرغ دئ. اوس چي د دې ادبي څوکي پر سر ولاړ يم او شاته ګورم، هغه نژدې شپږ سوه مخه نور راته شپږ سوه مخه نه ښکاري؛ د غرونو يوه پراخه لړۍ راته ښکاري چي څوکي ئې د انسان د ژوند بېلابېلي تجربې دي. له دې لوړوالي څخه نور هيڅ شی بېل بېل نه ښکاري. هره لاره، هره ډبره او هر وياله ناڅاپه د يوې ستړې او ښکلي منظرې برخه ګرځي.

د بېکسيار کتاب هم همداسي دئ. هغه څه چي په لومړي نظر د بېلو بېلو ليکنو يوه ټولګه برېښېده، ورو ورو د انسانيت په يوه جغرافيه بدلېږي. مضمون ئې انسان او انسان پالنه ده چي وروسته به بحث پر وکړم. فعلا خو زه د همدې ادبي څوکي پر سر په سکون ناست يم؛ نه يوازې منزل ته ګورم، بلکي د هغه اوږد مزل په اړه هم فکر کوم چي تر دې ځايه مي راورساوه. او اوس چي د بېکسيار د دې کتاب په اړه د خپل تأثر ليکل پيلوم، له تاسو څخه د لږ صبر هيله لرم څکه که د بېکسيار د کتاب لوستل د ايورېسټ غره ته ختل وه، نو ښايي د دې ليکني لوستل به له تاسو څخه و يوې غونډۍ ته د ختلو حوصله وغواړي.

څه موده مخکي، چي د بېکسيار صاحب دا کتاب، شرم له سپي، زما په لاس کي وو، يو ملګری مي راغی، کتاب ئې را نه واخيست، يوه يا دوې ليکني ئې سرسري ولوستلي، موسکی سو او په ډېري بې باکۍ سره ئې وويل:

«که د کتاب ليکل همدومره وي، نو زه هم يو کتاب ليکلای سم. دا خو يوازي خاطرې دي.»

د ده د دې خبري سره سمدستي د بېکسيار خپله يوه خبره را په ياد سوه؛ هغه خبره چي يوه ورځ ئې زموږ په يوه ادبي ناسته کي، ډېر په عادي ډول، کړې وه. ويل ئې:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

«داسي کتاب (شرم له سپي) هر څوک ليکلای سي. خپلي خاطرې وليکئ، خپلي کيسي وليکئ، د هغو خلکو په اړه ئي  وليکئ چي ليدلي مو دي، او د هغو وړو وړو پېښو په اړه چي کله ئي موسکا درېخښلي او کله ئي اوښکي دربهيولي دي ليکل وکړئ. د نن انسان غواړي پوه سي چي د نورو انسانانو په ژوند کي څه تېرېږي، په هغه د خبرېدو تږی دئ؛ د نورو د ژوند کيسي خوښوي. نو خپلي کيسي وليکئ، دا خو ډېر آسانه کار دئ.»

په لومړي سر کي ما هم د ده خبره ومنله چي هو کار خو ساده دئ. په رښتيا هم، د خپل ژوند ليکل، تر دي به نو نور څه اسانه وي؟ زما په خاطرو تر ما بل څوک ښه پوهېږي؟ زما د ماشومتوب کيسه به تر ما بل څوک په ډېر صداقت بيانولای سي؟ د ده د کتاب په هره پاڼه کي چي مي ګامونه مخته اخيستل ، دغه باور ورو ورو ماتېدی. اوس، چي د دې سلګونو پاڼو اوږد سفر مي بشپړ کړی، او د دې غره له لمنو څخه تر واورينو څوکو پوري راختلی يم، ځان د ده له هغي خبري سره په ډېر درنښت ډېر مخالف وينم. نه! داسي هرګز نه ده! خبري آسانه دي. خو کيسي کول آسانه نه دي. داسي ليکني په لوستلو کي ساده بريښي خو ليکل ئي آسانه نه دي. د يوه ژوند تر تېرولو او د هغه ژوند تر بيا ژوندي کولو پوري د سمندرونو واټن پروت دئ.

له هغه وخته چي لا سينما نه وه پيدا سوې او متحرک انځورونه لا پر سپينو پردو نه ښکارېدل، د نړۍ په بېلابېلو ګوټونو کي داسي سړي او ښځي اوسېدلي دي چي ټوله نړۍ به ئي پر ژبو ګرځول. د کليو په رغو کي، د پاچاهانو په دربارونو کي، د کاروانونو په خېمو کي او د ګڼو بازارونو په شور کي به کيسه ويونکو عادي ماښامونه په نه هېرېدونکو ماجراوو بدلول.

د «زر او يوې شپې» ګمنامو راويانو، د فارس او د هند د نيمي وچي ګرځنده داستان ويونکو، د لرغوني يونان هغو راپسودانو چي د هومر حماسي به ئي په ياد ويلې، او د نړۍ بېشمېره نوم ورکو کليوالو نقل چيانو، ټولو يوه ګډه او نادره خدايي ډالۍ درلودل، د کيسي کولو يا اورولو هنر. هغوی نه کامرې ته اړتيا درلوده، نه ارکيسترا ته، نه اوپرا ته، او نه هم د ځانګړو باکګراونډ اغېزو ته. د هغوی يوازينۍ وسيله کلمي وې. د اورېدونکو خيال د هغوی د سينيما پرده وه. د هغوی ړغونه انځورګر ول، داسي ژوندي صحني به ئي پنځولي چي انسان به دا هېر کړل چي فقط يوه کيسه اوري. هغوی يوازي راويان نه ول. هغوی جادوګران ول. هغوی به د ژبي په زور د اورېدونکي د خيال پر آسمان يوه شفافه پرده غوړوله، او بيا به ئي پر هغې پردې د ژوند فلمونه چلول.

او کيسه ليکل! کيسه ليکل تر دې هم ډېر سخت کار دئ. ليکوال بايد لومړی د هماغو لرغونو کيسه ويونکو په څېر و اوسي؛ هغه کسان چي يوازي د خبرو په جادو به ئي زړونه تسخيرول، خو صرف همدا بسنه نه کوي. تر دې وروسته دی بايد د ژبي يو صبور هنرمند هم وي، هره جمله په دومره حوصله او مينه وتراشي چي لوستونکی ګومان وکړي، دا خو بې له کوم زحمته ليکل سوې ده. حال دا چي په ادبياتو کي تر هر څه سخته لاسته راوړنه همدا ساده ګي ده. ډېری وخت هغه يوه پاڼه چي تر ټولو طبيعي ښکاري، د ساعتونو، ورځو او آن کلونو پوشيده زحمت په ځان کي نغښتی لري.

يوه تلپاته خاطره يوازي په حافظه نه جوړېږي. هغه داسي سترګي غواړي چي هغه څه ويني چي نور ئي نه ويني؛ داسي حوصله غواړي چي د زرګونو عادي ورځو له منځه د معنی ډکي شيبې راوباسي؛ ژوره مشاهده غواړي چي د انسان روح و روان وپېژني؛ هم صداقت غواړي او هم ئې د ښوولو جرئت غواړي؛ نرم طنز غواړي، کوم چي خلک و نه ځوروي، بلکه لوستونکی موسکی کړي؛ احساس غواړي چي زړه وخوځوي، خو په احساساتو کي ئي غرق نه کړي؛ ريتم غواړي چي په څپو کي ئي لوستونکی له ځانه سره يوسي؛ خبرې اترې غواړي چي د ژوندون ورم ترې راولاړېږي، نه چي د تخيل مصنوعي رنګ ترې وځي؛ انځورګري غواړي چي مفهوم روښانه کړي، نه دا چي يوازي د ښکلا لپاره مصنوعي سينګار وي او تر ټولو مهمه دا چي ليکوال په دې ښه پوه وي چي کيسه په کوم ځای کي پای ته ورسوي. په ادبياتو کي کله ناکله هغه څه چي نه ويل کېږي، هومره ارزښت لري لکه هغه څه چي ويل کېږي.

دا ټولي ځانګړني په تصادف نه ترلاسه کېږي. دا هغه وسايل دي چي انسان ئي د کلونو کلونو لوست، ژوند، مشاهدې او بيا بيا ليکلو په مشق خپلوي. همدا وجه ده چي ډېری لوستونکي ساده ګي او اسانتيا سره ګډوي.

کله چي يو وتلی وايلن غږوونکی ساز وهي، نغمه ئي دومره آسانه ښکاري چي انسان د هغې تر شا د کلونو رياضت هېر کړي. همداسي د ښکسيار نثر هم لوستونکي ته دا خوږه تېروتنه ورکوي چي ګواکي هر څوک ئي داسي ليکلای سي. خو همدا احساس د هغه د هنر تر ټولو لوی ثبوت دئ. د هنر تر ټولو لوړه مرتبه هغه ده چي خپل زحمت له سترګو پټ وساتي. هر څوک خاطره ويلای سي خو هر څوک نه سي کولای خاطره په ادب بدله کړي. هر څوک د پرون کيسه کولای سي خو هر څوک نه سي کولای پرون داسي بيان کړي چي لوستونکی ئي خپله هم پرون وبولي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولـئ

همدا هغه هنر دئ چي زه ئي د دې کتاب د لوست په جریان کي محو و مجذوب کړم. ما ورو ورو احساس کړه چي د بېکسیار د نثر تر شا یوازي خاطرې نه دي پرتې؛ د کلونو مشاهده، د ژبې ریاضت، د کیسې د جوړښت شعور او د انسان د طبیعت ژوره پېژندنه هم ورسره مل ده. زما په باور، د بېکسیار اصلي بریا همدلته او همدغه ده.

د هغه کتاب یوازي د خاطراتو یوه ټولګه نه ده. دا هغه یادابښتونه دي چي د هنر په تله تلل سوي دي. ساده به برېښي خو تخلیق ئي آسانه نه دئ!

نوربیا

محمدسمیع صادق



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ